# UC DAVIS HEALTH

# د موټر د څوکۍ د خونديتوب لارښود




## مخ په شا – د ماشوم او بدلېدونکي څوکۍ

- له 2 کلونو څخه لږ عمر لرونکي ماشومان او کوچنيان بايد تول مخ په شا څوکۍ کې سفر وکړي مګر دا چې د ماشوم وزن 40 پاونډه يا 40 انچه يا له دې څخه ډېر اوږد وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې د ماشوم اوږو کې يا ورڅخه لاندې وي.
- د سينې ټرونکی ترل کېږي او تخرګ لاندې کچه کې وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې کلک دي، په اوږه کې يې نشئ ترلی.




## مخ په وړاندې څوکۍ – بدلېدونکي او ترکيبي څوکۍ

- ماشومان هغه مهال د موټر مخ په وړاندې څوکۍ کې سفر کولی شي چې لږ تر لږه 2 کاله عمر ولري يا د مخ په شا څوکۍ کې خپل د موټر د بدليدونکي څوکۍ د لوړوالی او وزن محدوديت څخه اوښتی وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې د ماشوم د اوږو له پاسه وي.
- د سينې ټرونکی ترل کېږي او تخرګ لاندې کچه کې وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې کلک دي، په اوږه کې يې نشئ ترلی.



## تقويتي څوکۍ – لوړه شاتنۍ برخه يا شاتنۍ برخه نه لرونکی

- له 5 کلونو څخه ډېر عمر او 40 پاونډه څخه ډېر وزن لرونکي ماشومان
- د تقويتي څوکۍ د کمربند موقعيت ستاسې ماشوم اوچتوي تر څو د غېږې او اوږې کمربند په مناسبه توګه وتړل شي.
- د اوږې کمرزند د اوږې او سينې منځ کې پروت وي.
- د غېږې کمربند پورتنۍ ورون باندې پروت وي نه خېټې باندې.



## د څوکۍ کمربند – مشرانو ماشومانو لپاره

ماشومان تقويتي څوکۍ کې وساتئ تر هغې پورې چې:

- هغوی دومره لوړ وي چې له قاتېدو پرته څوکۍ کې کېني، اکثره کله چې "9`4 وي.
- هغوی کولی شي شاته څوکۍ کې چې پښې يې د څوکۍ څنډه کې قات شوی وي کېني.
- د اوږې کمربند د سينې له منځه څخه تېر شي او په اوږې باندې پروت وي (نه په غاړه باندې).
- د غېږې کمربند لاندې ځای پر ځای او پاسنی ورون باندې وتړل شي (نه خېټې باندې).
- هغوی ټول سفر کې دغه ډول ناست پاتې کېدلی شي.



### د کاليفورنيا قانون پر بنسټ اړين دی چې

ماشومان تر هغې پورې چې 8 کلن يا "9`4 اوږد شي په سمه توګه د موټر څوکۍ يا تقويتي څوکۍ کې مهار شي.

**تر 2 کلونو لږ عمر لرونکي ماشومان بايد مخ په شا څوکۍ کې سفر وکړئ مګر دا چې وزن يې 40 پاونډه او لوړوالی يې 40 انچه يا ډېر لوړ شوی نه وي.**

ټول 8 کلن يا تر دې لږ عمر لرونکي ماشومان بايد د موټر شاتنۍ څوکۍ کې مهار شي.

**يو سي ډېوېس له صدمې څخه د مخنيوي پروګرام**
**916-734-9798**

# د موټر ځوکۍ نصبولو لارښوونې

**د موټر د ځوکۍ د لارښونې لارښود** او د موټر ځوکۍ نصبولو په اړه د د موټر د څښتن د لارښود برخه ولولئ. د موټر هره ځوکۍ باید په خپل ځای کې خوندي کېدو لپاره ښکتنۍ لنګر یا د ځوکۍ کمربند کارولو سره نصب شي.

د موټر ځوکۍ شاتنۍ ځوکۍ کې په **مناسب لورى** ځای پر ځای کړئ. د ځوکۍ کمربند یا د لنګر د نښلولو تار د کمربند مناسبې لارې څخه تېر کړئ.

کمربند **وتړئ او کلپ** یا لاندینۍ لنګر خوندي کړئ. خپل لاسونه د موټر ځوکۍ باندې کېږدئ او د کمربند یا لاندینۍ لنګر کلکولو پر مهال فشار ورکړئ.

د کمربند لارې ازمویلو پر مهال د منځنۍ اندازې قوې کارولو سره **ډاډه شئ چې د موټر ځوکۍ** له یو انچ څخه ډېر ښنګ یا مخکې او وروسته **حرکت نه کوي**.



## د مخ په شاه نصبول

ډاډه شئ چې د موټر ځوکۍ د تکیې سمه زاویه کې نصب شوی دی. اکثره موټرونه دغې مرحې کې مرستې لپاره خپله د زاویې ښودونکی یا تنظیموونکي لري.




## مخ په وړاندې نصبول

ډاډه شئ چې پاسنۍ **نښلونکي تسمه** په موټر کې له نښلوونکی لنګر سره وصل کړئ. دا مرحله له دې امله چې د ټکر پر مهال د وړاندې په لوري د سر حرکت محدود کوي مهم دی.

UC DAVIS HEALTH

# د موټر د ځوکۍ د نصبولو مرکزونه

*لطفاً ملاقات وخت ټاکلو لپاره اړیکه ونیسئ*

## د ساکرامنټو سیمه

د کالیفورنیا پوهنتون ډیوس روغتیا.................................. 916-734-9798

ډېګنېټي روغتیا (کارمیکایل او سهیلي سکرمنټو)...................... 916-864-5779

د ایلک ګرو د اور وژنې څانګه........................................ 916-405-7114

CHP جنوبي ساکرامنټو ............................................... 916-897-5600

د لویډیځ ساکرامنټو د اور وژنې څانګه................................ 916-617-4600

## د ساکرامنټو سیمې څخه بهر

CHP-نیوکاس............................................................ 916-663-3344

د سان جوکین کاونټي.................................................. 209-468-8914

د کالیفورنیا پوهنتون، ډیوس د اور وژنې څانګه ډیوس اور وژنې ځ530-752-3852

CHP-ووډلینډ............................................................ 530-662-4685

یولو ولسوالۍ روغتیا.................................................. 530-406-4410

AAA............................................... مراجعه وکړئ: aaa.com/carseats

UC DAVIS HEALTH | CHILDREN'S HOSPITAL